# عزیز مانړووال پر خپله خاوره او خلګو مین شاعر

**love for his motherland, soil, Pashto and Pashtunwali.**

**Dr.** Muhammad Sadiq Zharhak*

**ABSTRACT:**

If we look at the historical reference, there are many topics that have been discussed by poets in their works and poetry, but have not been investigated by researchers. Especially the poets of the current era discuss new topics in their thoughts and poems. Aziz Manirwal is also a famous Pasto poet of the modern era who has always paid attention to new topics in his writings. In particular, he wrote masterpiece poems in new and unique style on the subject of love for his motherland, soil, Pashto and Pashtunwali. This poet has always tried to present everything in such a new and unique way. In this article, a research and critical review has been done of Aziz Manerwal's new style and those poetry, which we consider to be unique. It is possible that the researchers of the coming era will further clarify this topic in his poetry.

**Keywords:** historical reference, poetry, thoughts, modern era, masterpiece poems, unique style.

خاوره او خلګ یو له بل سره تړلي دي، پر هره خاوره چې هر قوم ژوند کوي، له هغې خاورې سره د هغهٔ مینه یو فطري عمل دے، څوك چې کومې خاورې زېږولے وي نو د هغې خاورې سره د هغهٔ مینه به ارومرو وي. داسې څوك به په بشپړه نړۍ کښې نهٔ وي چې هغه دې له خپلې خاورې سره مینه و نهٔ ري. نو چا ته چې خپله خاوره ګرانه وي د هغې خاورې د خلګو سره مینه هم یو لاژمي عنصر دے. پښتانهٔ وايي: "هر چا ته خپل وطن کشمیر دے" نو زموږ خاوره به زموږ دپاره تر کشمیر هم ښايسته او ښکلې وي، هغه ځکه چې بل څوك خو موږ ته خپل کشمیر نهٔ راکوي. نو همدا وجه ده چې د هرې سیمې او خاورې خلګ له خپلې خاورې او د هغې له اوسېدونکو سره ژوره مینه لري، په زیاته بیا شاعر یو داسې حساسه څوك دے چې هغه به زما په خیال د قام تر نورو وګړو له خپلې خاورې او

---

* Assistant Professor, Pashto Department, University Of Loralai Balochistan.

خلګو سره زیات تړاو او مینه لري. ځکه چې د دوی کار هم دغه وي چې باید په خپلو شعرونو کښې خپله خاوره او خپل خلګ یاد کړي هغه د ستر خوشحال خان خټک خبره ده چې: "هر سړے پیدا دے خپل خپل کار لره کنه". نو د خوشحال د دې خبرې تائید د پښتو شاعرانو په سل کښې نیوي فیصده له امیر کروړه را واخلې د اوس دور تر درویش دراني پورې ټولو کړے دے. که څۀ هم د امیر کروړ یو نظم موجود دے او ټول په پښتني وطن، ننګ، غیرت او خاوره راګرځي خو موږ به د پښتو د لوی صوفي شاعر بیټ نیکۀ له مناجاته خبره را پیل کړو چې بیټ نیکۀ په مناجات کښې هم د خاورې او وطن خبره کړې ده او دا خبره یې په تذکرة الاولیاء کښې موجوده ده چې:

"لویه خدایه لویه خدایه :: ستا په مینه په هرځایه
غر ولاړ دی درناوي کښې :: ټوله ژوي په ځاري کښې
دلته دي د غرو لمنې :: زموږ کړدۍ دي پکښې پلنې
دا وګړي ډیر کړې خدایه :: لویه خدایه لویه خدایه"(۱)

له بیټ نیکۀ وروسته پښتو ادبیات ټول په وطن پرستۍ، قام پرستۍ او خاوره پرستۍ ډک دي، چې موږ یې نورې نمونې په روښانیانو کښې هم په زیات شمیر لیدلے شو، دلته د لوی خوشحال خان خټک نظر هم له تاسو سره ګډوم چې هغه د خپلې او خپل قوم په اړه څۀ وایي:

"بیا دي څۀ فتنې اغازې کړې اسمانه!
چې عباس دي را روان کړ له ایرانه
د کابل میوې خوراك دي د طوطیانو
پرې خوارۀ شول تور کارغان له هندوستانه
یو شدت د بادشاهانو تر منځ پریووت
بل دا ملك شو یو څو کاله بې بارانه
له هغې ورځې چې راغلې په دا ملك کښې
غم دي راوړۀ تر سپاهه تر دهقانه"(۲)

دغسې د دغه زرین دور مشهور شاعر حضرت رحمان بابا که څۀ هم ډیرو لیکوالو ګوشه نشین یا له دنیا بیزاره شاعر بللے دے خو رحمان بابا کله هم

داسې خاموش شاعر نۀ دے پاته شوے چې خپلې سيمې، قوم او خاورې ته به يې پام نۀ وي کړے بلکې دوی هم خپلې غاړې د خپلې خاورې په اړه داسې خلاصې کړې دي:

"چې يې در و هم دېوار و ته نظر کړم
باغ بوستان و دغه در درې واړه يو دي
په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور او ګور او پېښور درې واړه يو دي"(۳)

په نننۍ دور کښې پښتانۀ له داسې حالاتو سره مخ دي او له داسې ستونځو سره لاس و ګرېوان دي چې زما په اند دا وخت به د نړۍ پر مخ پښتانۀ او پښتنې خاوره چې له کومو حالاتو او ستونځو سره مخ دي، ښايي چې بله خاوره او قوم به له داسې کړاوونو سره مخ نۀ وي، نو په داسې سختو شرائطو کښې د نوي دور شاعرانو هم له حمزه شينواري را واخلې چې د شاعرۍ اهم عنصر يې هم پښتونولي، قام، خاوره او وطن دے بيا دا لړۍ د نورو جديدو شاعرانو په شعرونو کښې په ګڼ شمېر غځېدلې ده، بيا تر عزيز مانيروال پورې ټولو خپله فريضه په نره تر سره کړې ده او کله يې خپل قوم او خپله خاوره نظر انداز کړې نۀ ده، او هم دغه د دې د شاعرانو فرض دے او همدغه يې دنده ده چې له خپلې خاورې او خپلو خلګو سره په خپلو شعرونو کښې مينه وښيي او له خلګو سره مينه وړاندې کړي. له ښۀ مرغه پر پښتنې خاوره هر ځای قامپال شاعران بوخت دي، په خپلو شعرونو کښې له خپلې خاورې او خلګو سره خپله مينه څرګندوي.

د صوابۍ مانېرۍ د سيمې ځوان او خوږ ژبے شاعر عزيز مانېروال هم په خپله شاعرۍ کښې دې اړه ته بشپړه پاملرنه کړې ده. د نوموړي په شاعرۍ کښې داسې ډېر څۀ شته چې له خپلې خاورې او له خپلو خلګو سره يې مينه په کښې ښودلې ده لکه چې وايي:

"ستا يادونه مازيګر را پسې ژاړي :: يو دوه نۀ دي سراسر را پسې ژاړي
ما ته وايي وايه وطن ستايه :: پښتانۀ د لر او بر را پسې ژاړي"(۴)

عزيز وطن خپل روح ګڼي او جانان خپل ځان ګڼي او ورسره د دې تر څنګ يې پر خپلو وسايلو هم پام دے. د خپلې خاورې شته اوبۀ يې په پام کښې دي، له

خپلې خاورې، خلکو او خپلو سیندونو سره مینې د دهٔ و شاعرۍ ته لا ځلا وربخښلې ده لکه:

"که وطن دے که جانان :: یو مي روح دے بل مي ځان
پښتونخوا ستا پر سینه :: شل سیندونه را روان"(۵)

عزیز مانړوال له خپل قام او خلکو سره دومره لېونۍ مینه لري چې دهٔ ته تر هر چا خپل پښتانهٔ او د پښتو هیواد ښکلے ښکاري، د عزیز د مینې دا لېونتوب کله کله انتها ته رسېږي لکه په دې شعرونو کښې چې یې وینو:

"هسې په دې ښار کښې حسن چرته دے
موږه پښتانهٔ یو ځکه ښکلي یو
نن د وطن کاڼو بوټو وویل
خپل عزیز سندرو کښې ستایلي یو"(۶)

"که دي د سمې که د غرهٔ ښکلي دي :: ټوله دنیا کښې پښتانهٔ ښکلي دي
وطن ته راشه مسافره یاره :: دلته هوا دلته اوبهٔ ښکلې دي
خېر دے د بل چا نه پوښتنه وکړه :: زما برېتونه ستا باڼهٔ ښکلي دي"(۷)

بل ځای وایي:

"داسې غاړه غتۍ ښهٔ یو :: نن به یو سبا به نهٔ یو
ملامته چا ته نهٔ یو :: لویه خدایه! پښتانهٔ یو"(۸)

پښتانهٔ په عام ژوند کښې وایي چې نارینګه ګیله نهٔ کوي، یعني په ګیلو بد ښکاري او که چرې موږ د نارینتوب تر ځان خوښۍ ور تېر شو نو خدای شته پښتنه هم په ګیله بده ښکاري. همدغه د پښتنو رواج او دود دے چې تر زیاتې اندازې له ګیلو ځخه ځان ژغوري، د پښتونولۍ همدغه رنګونه دي چې د عزیز مانړوال په شاعرۍ کښې یې په ژوره توګه ځای موندلے دے، ځکه خو وایي:

"شکر دے پښتون دي پیدا کړے یم :: خدایه د ګیلو نه دي بې غمه کړم"(۹)

پښتانهٔ ټول عمر په باور ژوند تېروي، همدغه باور دے چې زیاتره وخت یې له دې پښتنې باور څخه پردي ناوړه ګټې پورته کوي، خو د عزیز بیا هم په پښتنې باور پسې خفه وي، پر پښتنې باور باندې کلك باور لري. نو ځکه خو وايي:

"پخوا به موږه لويې لويې حوصلې لرلې
پښتون يقين په خداى توکل ځومره مزده وه پکښې"(۱۰)

پښتو که يوې خوا ته د ژبې نوم دے، نو بلې خوا ته پښتو د يوې ژمنې، وعدې او لوظ نوم هم دے، پښتانهٔ وايي چې پښتو مې ورسره کړې ده، نو پښتو د پوې وعدې، ژمنې او قانون په معنا په پښتنو کښې ژوندۍ ده، نو ځکه زموږ دغه مین شاعر په خپلو لاندينيو شعرونو کښې محبوبې ته خپله پښتو وریادوي چې ستا هغه ژمنه څهٔ شوه او د ژمنې نهٔ پر ځاى کېدو باندې يو ډول نرم پېغور هم ورکوي لکه:

"عالمونه به خبر کړم عجيبه ده :: هم لوظونه ماتوي هم پښتنه ده
ستا وعدې خپل انتظار چې مخامخ کړم :: د پښتو په چم کښې سمه تماشه ده"(۱۱)

عزيز په پښتو او پښتونولۍ پسې مين ځوك دے او خپلو شعرونو کښې يې دغه خيال ژوندے ساتلے دے چې شاعري ته يې يو ډول خوږوالے ور په برخه کړے دے کله چې په خپل چاپېريال کښې يې پښتو ورځ ووينې نو بيا داسې په جار وايي چې:

"ستا عزيز پښتو پښتونولۍ پسې :: ګرځي لے په لے لېونے شوے دے"(۱۲)

جرګه د پښتنو يو مشهور دود دے کله چې خبره جرګې ته ولاړه شي نو هلته بيا خلګ دې ته انتظار باسي چې د جرګې پرېکړه راشي. د جرګې د پرېکړې د انتظار حالت عزيز جان په خپل يوهٔ شعر کښې داسې ځاى کړے دے:

"دا دستور د پښتنو دے دا رواج زموږ د کلي
اوس خبرې د جرګې شوې انتظار ګوته په خولهٔ شه"(۱۳)

توره او ډال زموږ د پخوانۍ دورې هغه اوزار دي چې پښتنو د خپلې ساتنې دپاره تورې او ډالونه ساتل. عزيز که څهٔ هم د مينې او امن ترږے شاعر دے خو د وطن ساتنه پر ځان فرض ګڼي پرون وطن شاتنه په توره او ډال کېده خو نن دغه کار

په ټیکنالوجي بآندي کیږي او ټیکنالوجي د ترلاسه کولو دپاره د قلم اړتیا ده. عزیز هم د قلم پلوي دے خو د وطن ساتنې دپاره یې توره او ډال د یوۀ سمبل په توګه په شاعري کښې ځای کړي دي. لکه په دې شعر کښې چې یې وینو:

"یمه پښتون وطن پالنه کوم :: ځان سره توره ساتم ډال ساتم"(۱۴)

عزیز د نوي دور شاعر دے په دې نوي دور کښې یې د خپلې خاورې او خپل قام سره مینه دومره ښکاره ده چې په عملي توګه یې په پښتون سیاست کښې برخه لرلې ده، په دې لاره کښې یې ډول ډول کړاوونه وړي دي که څۀ هم د نورو وطن پالو په څېر خپل هدف ته نۀ دے رسېدلے ځکه خو وايي:

"بې څۀ بدنام شول لېوني خیالونه :: زما او ستا انقلابي خیالونه
ته ملالۍ او زۀ خوشحال نۀ شومه :: څنګ به خاوره شي پښتني خیالونه"(۱۵)

په پورته شعرونو کښې که و یوې خوا ته دا ارمان مل دے چې زۀ ولې خوشحال خان نۀ شوم یعني بریالے ولې نۀ شوم او و خپلې پېغلې ته وايي چې تۀ ولې ملالې نۀ شوې. له دې څخه دا ښکاري چې عزیز په ژوند کښې د دې ارمان دپاره عملي ګامونه پورته کړي دي، که څۀ هم موږ لاتراوسه پورې خپل ټاکلي هدف ته نۀ یو رسېدلي نو دغې عارضي ناکامۍ ته په پورتنیو شعرونو کښې نرمه اشاره لیدل کیږي. خو بلې خوا ته پښتني مبارزه کښې اجمل او تورلالے د دۀ داسې نومونه دي چې هغه هر یو له یوۀ بل پرته نامکمل دي، چرته چې د اجمل له نوم سره تور لالے نۀ شي یاد او یا له تور لالي سره اجمل نۀ شي یاد نو دا کیسه څۀ پیکه غوندې ښکاري. د اجمل او تور لالي کیسه که څۀ هم نژدې تېره شوې ده خو زموږ په مبارزه او ادب کښې یې ژور ځای موندلے دے. ښاغلے عزیز که په پورتنیو دوو شعرونو کښې کومه نیمګړتیا خپله یا د خپلو ملګرو بیان کړې ده خو بیا په لاندې شعرونو کښې په دې ډول ځان ته ډاډ ورکوي چې دغه ډاډ د ښاغلي حق هم دے:

"او او نیمځالے شومه :: نۀ نۀ را زلمے شومه
تۀ مي شوې اجمل خټک :: زۀ دي تور لالے شومه"(۱۶)

عزیز د اوسني دور شاعر دے نو لازمي خبره ده چي د دې دور ناخوالې يې په پام کښې نیولې دي او په دې ډول پښتو باندې ډېر خفه دے او په خپله شاعري کښې يې داسې پښتو ته ځای ورکړے دے او د پښتنو غوړونو ته يې د شعر په ژبه خپل ږغ رسولے دے او تر خپله وسه يې دغه پښتني د شعر په نازکه ژبه په ډېره ښه توګه رسولے دے، له دغې جملې څخه دوه ډول بېلګې دلته راوړم چي د تېر او اوسني دور بشپړ نمائندګي کوي:

"د ډاکټر نجیب په مرګ

خو په چا کښې چي دے زور د هغو کور دے :: د ملګرو ملتونو مي زړۀ تور دے
د کچرو سامراجانو په ډالرو :: خپلو وروڼو په دار کړے سکه ورور دے"(۱۷)

"پښتنائۀ غرونه د پوزې اوبزان دي :: موږ خپل سپېڅلي روایت سره دهوکه کړې ده
د جنت دروازه بقه خولۀ پرته ده :: پښتون بچي چرته خودکشه دهماکه کړې ده"(۱۸)

عزیز د دې دور ډېر په زړۀ پورې شاعر دے، په شعرونو کښې يې د مینې او امن تنده زیاته لیدل کیږي خو زما سکالو (موضوع) دلته له خپلې خاورې او خپل قام سره د مینې خبره ده نو په دې باب عزیز د خپل لوی ملي ارمان ږغ په لاندینیو شعرونو کښې پر موږ په دې ډول کړے دے:

"دا ماښام چي مازیګر ته غاړه وځي :: ستا یادونه مي ځيګر ته غاړې وځي
لرو برو! یوه ورځ به داسې راشي :: چي کابل به پښنور ته غاړه وځي"(۱۹)

**نتیجه**:

عزیز مانړوال د ښې شاعرۍ په څنګ کښې د شعر په فن او فکر دواړو حوالو په بشپړه پوه دی، او په شاعري کښې يې موضوعات دومره زیات دي چي په هر موضوع يې د مقالو څۀ چي د کتاب لیکلو مواد شته، د همدغو موضوعاتو په زور يې شاعري ښۀ متنوع ده، او دومره خوندور شعرونه لري چي کله کله بې ساخته د سړي تر خولې د واه ږغ ووزي. خدای دي وکړي چي زموږ دغه شریك او ګډ ارمان په خوښۍ سر ته ورسیږي. چي له موږ سره زموږ دغه خوږ ژبے شاعر عزیز مانړوال خپل دغه لوی ارمان ګور ته یو نۀ شي.

# حوالې

(۱) ماکو، سلېمان، ترتیب او حواشي علامه عبد الحی حبیبي، علامه حبیبي د څېړنو مرکز کابل، ۲۰۰۰ء، مخ ب.
(۲) خټك، خوشحال خان، د خوشحال خان خټك کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، زیاتونه او سمونه عبد القیوم زاهد مشواڼی، ۲۰۰۸ء، مخ۲۰۹، ۲۱۰.
(۳) رحمان بابا، دیوان رحمان بابا، طابع اي زېد تبسم، پېښور، س، ن، مخ۱۳۴.
(۴) مانړوال، عزیز، دا لېونې لېونې ګرځه، ارشد پبلیشرز صوابی، ۲۰۱۲ء، مخ۹۲.
(۵) ایضاً، مخونه ۱۲۱، ۱۲۲.
(۶) ایضاً، مخ ۱۲۷.
(۷) ایضاً، مخ ۱۱۱.
(۸) ایضاً، مخونه ۱۳۳، ۱۳۴.
(۹) ایضاً، مخ۷۴.
(۱۰) ایضاً، مخ ۷۳.
(۱۱) ایضاً، مخ ۲۸.
(۱۲) ایضاً، مخ ۱۰۳.
(۱۳) ایضاً، مخ ۸۲.
(۱۴) ایضاً، مخ ۱۱۲.
(۱۵) ایضاً، مخ ۵۳.
(۱۶) ایضاً، مخونه ۱۲۸، ۱۲۹.
(۱۷) ایضاً، مخ ۱۵۰.
(۱۸) ایضاً، مخ ۱۸۷.
(۱۹) ایضاً، مخ ۱۴۶.